د لوړو زده کړو وزارت
التقوي د لوړو زده کړو مؤسسه
AL-TAQWA INSTITUTE OF HIGHER EDUCATION

# اقتصاد پوهنځي

# لارښود کتاب

۱۴۰۱

د اقتصاد پوهنځي کتلاک فهرست


| | |
|---|---|
| د علمي مرستال پیغام | ۳ |
| د اقتصاد پوهنځي رئیس پیغام | ۴ |
| د اقتصاد پوهنځي تاسیس ( تاریخچه | ۵ |
| د اقتصاد پوهنځي لرلید او ماموریت | ۵ |
| د اقتصاد پوهنځي ارزښتونه ( Values ) | ۶ |
| د اقتصاد پوهنځي موخې | ۷ |
| د اقتصاد پوهنځي فعالیتونه | ۷ |
| د اقتصاد پوهنځي د محصلینو د خذب او منلو شرایط | ۸ |
| د اقتصاد پوهنځي د تحصیل اجوره | ۸ |
| د اقتصاد پوهنځي کې د زده کړې موده او وختونه | ۹ |
| د زده کړې سیستم او ددې سستم عمومي اصول | ۱۰ |
| د محصل حقوق او امتیاز | ۱۲ |
| د غوره او ممتازو محصلینو هڅونه | ۱۳ |
| په ټولنه کې د محصلینو ونډه | ۱۵ |
| د محصل درجه بندي | ۱۵ |
| محصلینو ته فرصتونه | ۱۶ |
| نظم و ډسپلین | ۱۷ |
| د اقتصاد پوهنځي کمیټې | ۱۸ |
| علمي پروګرامونه | ۱۹ |
| علمي محافل ( کنفرانسونه، سمینارونه، ورکشاپونه) لاسته راوړني | ۲۵ |
| د اقتصاد پوهنځي اسانتیاوې ( منابع او امکانات ) | ۲۸ |
| پالیسۍ او طرزالعملونه | ۴۱ |
| لاسته راوړني | ۴۲ |



## د علمي مرستیال پیغام

په ژوند کې هر څه د یو نظم او قانون تابع دي انساني ژوند له کاروبار پرته نشي چلیداي او په همدې ډول اله العلمین په دنیا کې امکانات محدود پیداکړي دي او اړتیاوې ډیرې دي نو ددې کمو منابعو څخه منظمه او اعظمي ګټه اخیستنه د انساني ژوند د بقا لپاره یو حیاتي لار ده.

په تحصیلي مؤسساتو کې یو علمي څیړنیزه مرجع د دې لپاره ایجاد شوی ده څو وکولې شي چې ددې محدودو منابعو څخه مؤثرې استفادې لارو چارو ته علمي او پر ځای میکانیزم جوړ کړي.

د اقتصاد پوهنځي په تحصیلي نهادونو کې د همدې لپاره ایجاد شوي څو پورتني هدف تر لاسه کړي.

د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسه چې د ۱۳۹۱ هجري لمریز کال راپدیخوا په تحصیلي ډګر کې خدمات وړاندې کوي له پیله یکې د اقتصاد پوهنځي فعالیت کوي او دا پوهنځي درې څانګو د ادارې او تجارت، مالي او بانکي او عمومي اقتصاد څانګو کې فارغان ورکړي او هدف یې دا دي چې تولنې ته داسې شخص او مسلکي کادرونه وړاندې کړي چې هېواد ته په اقتصادي، داري او تجارتي برخه کې خدمات وړاندې کړي.

په درنښت

عبدالحمید سیرت

د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسي علمي مرستیال



یو داسي ځاي چېرته چې د یو متغیر انساني چاپیریال او د پر مختللي ټولني یوه برخه و اوسي هغه د التقوي د لوړو زده کړو موسسه ده، چې د اقتصاد په برخه کي له نهه کلنۍ علمي تجربي سره لا پر مخ ځي.

التقوي د لوړو زده کړو موسسي د اقتصاد پوهنځي د اقتصاد په برخه کي خپلو محصلینو ته د لیسانس په کچه د تیورۍ تر څنګ عملي زده کړو زمینه برابره کړي یاد پوهنځي د خپل معیاري تحصیلي نصاب په لرلو سره بازار (مارکیټ) ته د غوښتني اړند وړ اشخاص وړاندي کوي، چي په نوموړي برخه کي د مدیریتي محاسبي، مالي او بانکدارۍ، پرمختیایي اقتصاد، نړیوالو اقتصادي پروژو مدیریت او علمي څیړنو په مطالعي سره د لېسانس په کچه محصلین په ټولنه کي د تصمیم نیولو، پلان جوړولو، د کاروبارونو او وارداتو په برخه کې د ښه مدیریت ترسره کولو لپاره روزي.

اقتصاد پوهنځي د لېسانس په برخه کي د ګډ کار، د مفاهمي مهارتونو، رهبرۍ، د کارکوونکو د مهارت پرمختګ او د انګلیسي مهارتونو په لرلو سره غواړي، چي محصلین ټولني ته د خدمت لپاره وړاندي کړي.

التقوي د لوړو زده کړو موسسي د اقتصاد پوهنځي غواړي، چي په هیواد کي د معیاري پوهنتونونو په کچه د اقتصاد د علم په ګانه سمبال فارغان ټولني ته وړاندي کړي، ترڅو د لا ښه خدمت جوګه شي.

په درنښت

**دوکتور سید عبدالمعز (میرزاده)**

د اقتصاد پوهنځي رئیس

## د اقتصاد پوهنځي تأسيس (تاريخچه)

د قانون حاکميت، سالمه او منظمه اداره د هرې ټولنې له اساسي اړتياوو څخه ګڼل کيږي. د دې اړتيا د بشپړولو لپاره بېلابېل واحدونه کار کوي. د هېواد د لوړو زده کړو د مؤسساتو په اډانه کې د اقتصاد پوهنځي د قانون د حاکميت، سالمې ادارې او دې اهدافو ته د رسېدو په منظور د متخصصو، کارپوهو او مجربو کادرونو د رامنځ ته کولو په موخه ايجاد شوي دي.

التقوي د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسې په چوکاټ کې د اقتصاد پوهنځي د دې مؤسسې له تاسيس سره يو ځاي په ۱۳۹۰هجري لمريز کال کې رامنځ ته شوي دي چې لومړی دوره محصلين يې په ۱۳۹۱ هجري لمريز کال کې جذب کړي دي بناءً دې پوهنځي عملاً په ۱۳۹۱ هجري لمريز کال کې خپل فعاليتونه پيل کړي دي او تر دا مهاله په ښه کيفيت سره روان دي، ترڅو د ټولنې د اړتيا سره سم ورزيده، متخصص او کاري کادرونه د هېواد اقتصادي اورګانونو کې د کار کولو په موخه وړاندې کړي. د يادونې وړ ده چې نوموړي پوهنځي تر دا مهاله ټولنې ته فارغ التحصيل ورکړي چې اوسمهال په خدمت بوخت دي او يو ډير شمير محصلين په کې په زده کړو بوخت دي چې د تدريس چارې يې د ۲۰ تنو دايمي استادانو لخوا پرمخ وړل کيږي.

## د اقتصاد پوهنځي لرليد او ماموريت

**لرليد :Vision**

**اقتصاد پوهنځي غواړي، چې د مسلکي استادانو پر مټ، چې په تدريس، څیړنه او خدماتو کې ځانګړې وړتيا لري، د اقتصاد کاروباري مديريت او څیړنې په برخه کې د معياري لوړو زده کړو پوهنځي په توګه وپيژندل شي.**

**ماموريت :Mission**

**اقتصاد پوهنځي غواړي چې خپل محصلين د شته تحصيلي نصاب، څیړنو او عملي زده کړو پر مټ په مديريتي او تشبثي وړتياوو سمبال، ټولنې ته د خدمت او پرمختګ په موخه دولتي او خصوصي سکتور ته د رهبرۍ دندو پر مخ وړلو لپاره وړاندي کړي.**

## د اقتصاد پوهنځي ارزښتونه (Values)

- د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسې د مشرتابه تر رهبرۍ لاندې، د اقتصاد پوهنځي په خپله هره اړونده برخه کې د لاندې ارزښتونو په پام کې نيولو سره په دوامداره توګه علمي او اداري خدمات وړاندې کوي:
- د اساسي قانون او نورو نافذه قوانينو په رڼا کې د ملي حاکميت او ملي ګټو ساتنه او ورته بشپړ درناوي.
- په روزنيز علمي چاپيريال کې اسلامي او ملي افکارو ته درناوي او بشپړه پاملرنه.
- د بېلابېلو علمي او ټولنيزو پروګرامونو پرمټ د ټولنې پرمختګ کې د خپلې دوامدارې ونډې ساتل.
- په تحصيلي او اداري بهير کې د مساوات، ګډون او متقابل احترام اصولو رعايت.
- صداقت او رښتينولي
- متقابل درناوي
- عدالت او مساوات
- وړتيا او شايسته سالاري
- اخلاق
- سالمه اداره او رهبري
- درسي ميتودونه
- غوره درسي سيستم او تحصيلي نصاب

## د اقتصاد پوهنځي موخې

د اقتصاد پوهنځي د لاندې اهدافو د ترلاسه کولو په موخه رامنځته شوي او په همدې بناء فعالیت کوي:

- پر اسلامي، ملي او نړیوالو معیارونو برابر، په اقتصادي برخو کې د علمي کادرونو روزل او ټولنې ته وړاندې کول؛
- په اقتصادي (اداره او تجارت، مالي) برخو کې د تحصیلاتو زمینه برابرول؛
- د اسلامي، ملي او نړیوالو معیارونو سره سم ټولنې ته په اړوندو برخو کې د خدمتونو وړاندې کول؛
- د مالي، اقتصادي، او داسې نورو ارګانونو لپاره د پیاوړو کادرونو روزل او وړاندې کول؛
- د بېلابېلو مالي او اداري موضوعاتو څېړل او تحلیلول؛
- د اسلامي او ملي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره په نړیوالو اصولو برابر درسي کریکولم برابرول او تعقیبول؛
- په مالي او اداري برخو کې د محصلینو د نوښت، لیکنې، څېړنې او تحلیل وړتیا ته وده ورکول؛
- په مالي او اداري برخو کې علمي څېړنې ترسره کول او ورته وده ورکول؛

## د اقتصاد پوهنځي فعالیتونه

اقتصاد پوهنځي د تدریسي بهیر تر څنګ لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي:

1. تدریسي بهیر تر څنګ محصلینو ته عملي برنامې په لاره اچول.
2. د شته تفاهم لیکونو څخه استفاده کول او بېلابېلو اداراتو ته د عملي زده کړو او روزنې په موخه د محصلینو معرفي کول.
3. د استادانو او محصلینو ظرفیت لوړونې ته پاملرنه کول، چې اوس مهال هم د دې پوهنځي ځینې استادان د دوکتورا لپاره نورو هېوادونو ته لېږل شوي دي.
4. د پوهنتون اړوند مسایلو او چاپېریال ساتنې برخو کې التقوی ادارې سره په ګډه همکاري کول.
5. د پوهنځي د ځینو محصلینو له خوا په ملي سیالیو کې برخه اخیستل؛
6. د دولسم صنف څخه فارغ او ممتاز زده کوونکي د کانکور د آزموینې له لارې جذبول؛
7. د ټاکل شوي درسي نصاب په بشپړ ډول د منظم مهال وېش له مخې محصلینو ته تدریسي چارې پرمخ وړل؛
8. په بېلا بېلو رشتو او څانګو کې محصلینو ته اداري او مالي زده کړې ورکول؛
9. د لوړو زده کړو د قوانینو په رڼا کې د لیسانس تر کچې د اقتصاد مسلکي کدرونو روزل.
10. د هېواد په بیا رغونې او پرمختیا په برخه کې د ونډې اخیستلو په موخه د کدرونو روزل؛

## د اقتصاد پوهنځي د محصلینو د جذب او منلو شرطونه

دا چې د لوړو زده کړو وزارت د اصولو سره سم، د لوړو زده کړو ټولو دولتي او نادولتي پوهنتونو او مؤسسو ته شمولیت د کانکور له لارې صورت نیسي. د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسې اقتصاد پوهنځي ته هم شمولیت د کانکور د ازموینې له لارې صورت نیسي.

د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسه کې داوطلبانو کتګورۍ ته په توجه سره لاندې شرطونه په نظر کې نیول شوي:

د دولسم ټولګي د فارغانو د منلو شرطونه

1. د تابعیت معتبرې تذکرې لرل؛
2. د پوهنې وزارت په تائیدي او مُهر له دولسم ټولګي څخه د فراغت شهادتنامې لرل؛
3. په عین وخت کې بل کوم دولتي یا خصوصي پوهنتون یا تحصیلي مؤسسه کې محصل نه وي.
4. د کانکور ازموینې ته حاضرېدل؛
5. د ازموینو ملي اداري نوم لیکنې مخصوصه فورمه په خپل قلم ډکول او لاسلیکول؛
6. د هېواد د نافذه قوانینو، مقرراتو، لایحو، طرزالعملونو او د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو داخلي پالیسۍ او اصولو د رعایتولو له پاره د ژمنلیک لاسلیکول؛
7. د تحصیلي مؤسسې د ټاکلي داخلې او فیسونو له عهدې څخه وتل؛

## د اقتصاد پوهنځي د تحصیل اجوره

څرنګه چې د اقتصاد پوهنځي د خپلو امورو د پر مخ بیولو لپاره لازمو مالي امکاناتو ته اړتیا لري او دغه اړتیاوې د محصلینو د فیسونو پرمټ بسیا کېدای شي، په همدې موخه یاد پوهنځي خپلو محصلینو ته د ټاکلي فیس په مقابل کې اکاډمیک خدمات وړاندې کوي.

## د اقتصاد پوهنځي کې د زده کړې موده او وختونه

د زده کړې مودې او درسي وختونو ته په لاندې ټکو اشاره کوو:

### ۱) د زده کړې موده

د کریډیټ لایحې له احکامو سره سم د اقتصاد په پوهنځي کې د تحصیل موده په اوسط ډول څلور تحصیلي کاله ده، چې په ټول هېواد کې د لېسانس دورې لپاره همدا څلور کاله اوسط حد ټاکل شوي دي.

د لېسانس د تحصیل ټوله دوره په ۸ سمسترونو کې پای ته رسیږي.

هر تحصیلي سمستر ۱۶ درسي اونۍ او حد اکثر درې اونۍ ازموینې په بر کې نیسي، بناءً یو تحصیلي سمستر زیات نه زیات په ۱۹ درسي اونیو کې پای ته رسیږي.

پر دې سربېره د ستونزو د موجودیت په صورت کې لېسانس دوره تر ۲ نورو کلونو هم غځېدلي شي، یعنې د لېسانس ټوله دوره باید حد اکثر په شپږو کلونو کې پای ته ورسیږي، که څوک په دې موده کې د لېسانس د سند په ترلاسه کولو بریالي نه شي، له پوهنځي څخه په دایمي ډول اخراجیږي.

د اقتصاد پوهنځي د نوي تحصیلي نصاب مطابق په دوه څانګو وېشل شوي چې محصلین د خپل ذوق مطابق په یوه رشته کې زده کړې کوي.

### ۲) د درسي بهیر وختونه

د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسې د اقتصاد پوهنځي درسي وختونه په دوه دورو وېشل شوي دي، چې یوه یې سهارنۍ او بله یې ماښامنۍ دوره ده، خو د غوره درسي کیفیت په درلودلو سره د مراجعینو په شمېر کې ورځ تر بلې زیاتوالي رامنځته کېږي، په همدې بناء د پوهنځي د اداري په غوښتنه او د یادې مؤسسې د رهبرۍ په مشوره نومورې دوه دورې د ورځې په جریان کې په درېیو مختلفو وختونو کې تنظیم شوي دي چې په لاندې ډول دي:

### الف) سهارنۍ دوره

معمولاً د سهارنۍ دورې درسي وخت په (8:30AM - 11:30AM) کې تنظیم شوي، خو د دې دورې د محصلینو د شمېر زیاتوالي ته په کتو سره، یو شمېر صنفونه په (6:00AM-8:15AM) کې هم تنظیم شوي دي.

### ب) ماښامنۍ دوره

د ماښامنۍ دورې محصلینو درسي وخت په (3:30PM-6:30PM) کې تنظیم شوي دي.

باید یادونه وشي چې د کریډیټونو شمېر ته په کتو سره دا ساعتونه کله کله بدلون مومي او اضافه کېدای شي.

## د زده کړې سیستم او د دې سیستم عمومي اصول

د اقتصاد په پوهنځي کې زده کړه د کریډټ سیستم مطابق ترسره کیږي.

نوموړي سیستم د لوړو زده کړو په بهیر کې یو نوی او پرمختللی سیستم دی، چې هدف یې محصل ته د تحصیل په بهیر کې د پراخو درسي امکاناتو برابرول او د تدریس پخوانی سیستم له منځه وړل دي، په دې سیستم کې محصل د یو کتاب د مطالعې پر ځای د اضافه مطالعې پر لور هڅول کیږي او د لکچر د ارایې پر ځای د تدریس له عصري او نویو میتودونو څخه کار اخیستل کیږي.

کریډټ یو درسي واحد دی، چې له مخې یې په ټوله تحصیلي دوره کې د هر مضمون برخه ټاکل کیږي، یو کریډټ له ۱۶ درسي ساعتونو سره برابر دی، چې هر درسي ساعت ۵۰ دقیقې وخت په بر کې نیسي.

د دې سیستم له مخې د هر سمستر په نهایي ازموینو کې د ګډون لپاره (۷۵) فیصده حاضري یو لازمي امر دی. د دې سیستم په درسي نصاب کې مضامین پر څلورو کټګوریو وېشل شوي دي چې عبارت دي له: ۱ -اساسي مضامین ۲- تخصصي مضامین ۳- پوهنتون شموله مضامین۴- اختیاري مضامین.

د کریډیټ لایحې د دویمې مادې په اساس د لیسانس په دوره کې حداقل ۱۳۶ کریدیټه او حداکثر د تحصیلي دورې د اوږد والې پورې مربوطیږي، په همدې ترتیب په هر سمستر کې د (۱۷ – ۲۱) کریډیټونو ترمنځ تدریسیږي.

## ازموينې او د محصلينو د ارزيابۍ طريقې

د التقوي د لوړو زده کړو موسسې د اقتصاد پوهنځي په بېلابېلو پوهنځيو کې محصل د صنفي فعاليت، اخلاق، لنډ سمينار، کنفرانس، او ټسټونو، د سمستر وسطې ازموينې، او سمستر نهايي ازموينې فيصديو په پام کې نيولو سره ارزيابي کېږي.

محصل هغه وخت بل سمستر ته ارتقاء کولاي شي چې د سمستر نيمايي کريډيټونه تکميل کړي. که چېرې يو محصل له نيمايي نه په زياتو کرېډېټونو کې ناکام، محروم يا غايب شي، په دې صورت کې د ټول سمستر ناکام ګڼل کېږي. په عين سمستر کې له نيمايي نه په زياتو کرېډېټونو کې دوه ځلې ناکامېدل د محصل د دايمي اخراج سبب ګرځي. د مضمون د کاميابۍ لپاره د (۵۵) نمرو ترلاسه کول اړين شرط دي، د دې ترڅنګ په هر سمستر کې د (۶۰) فيصده عمومي اوسط ترلاسه کول هم ضروري دي. په لومړي ځل د عمومي اوسط نه پوره کول د اخطار سبب ګرځي او که دويم ځل په ورپسې سمستر کې بيا هم پورتني اوسط تکميل نه شي، د محصل د اخراج سبب ګرځي، په دويم چانس کې له يو نه په زياتو مضامينو کې ناکامي د ټول سمستر د ناکامۍ سبب ګرځي. او په درېيم چانس کې ناکامي په دايمي ډول د پوهنځي څخه د اخراج سبب ګرځي، خو په دې شرط چې ناکامي په اختياري او پوهنتون شموله مضامينو کې نه وي. په ټوليزه توګه په يوه سمستر کې د يو محصل ارزيابي په لاندې توګه ترسره کېږي:

| ګڼه | د ارزونې برخې | د نمرو وېش |
|---|---|---|
| ۱ | د سمستر منځنۍ ازموينه | ۲۰ نمرې |
| ۲ | کورنۍ دندې/ د ټولګي فعاليتونه | ۱۰ نمرې |
| ۳ | حاضري/ اخلاق | ۱۰ نمرې |
| ۴ | د سمستر وروستۍ ازموينه | ۶۰ نمرې |
| | ټولې نمرې | ۱۰۰ نمرې |

## د محصل حقوق او امتیازات

د لوړو زده کړو د موسسې محصل د لاندې حقوقو او امتیازاتو لرونکي دي:

1. په تحصیلي برنامو کې نظري او عملي زده کړې ته لاس رسي.
2. د زده کړې د وضع د ښه والي له پاره وړاندې کول.
3. د اړوندو تقنیني سندونو مطابق د محصلینو د ادبي، فرهنګي، علمي ټولنو او کلوپونو تأسیس.
4. د اړوندو لایحو مطابق د تحصیلي موسسې له کتابونو او لوړو زده کړه ییزو امکاناتو څخه استفاده.
5. له سپورتي کلوپونو او روغتیایي خدمتونو څخه استفاده.
6. د تقنیني سند مطابق د لېسانس په دوره کې د امتیازاتو څخه استفاده
7. له اختصاصي کمښتونو (تخفیفونو) څخه استفاده.

## د محصل مکلفیتونه

د لوړو زده کړو د موسسې محصل لاندې مکلفیتونه لري:

8. د قوانینو، مقرراتو، لایحو، تصویبونو او اړوندو کړنلارو د حکمونو رعایتول.
9. په درسي برنامو کې فعال ګډون.
10. د اکاډمیک چاپېریال د نظم او دسپلین رعایتول او د نورو له ازارولو او ځورولو څخه ډډه کول.
11. په تحصیلي موسسه کې له ودانیو، وسایلو او نورو اسانتیاوو څخه مسؤلانه استفاده.
12. د سرغړونې په صورت کې د لوړو زده کړو موسسه مکلفه ده، له احوالو سره سم، د اړوندې لایحې مطابق لازم انضباطي تدبیرونه ونیسي.

## تحصیلي سند (دیپلوم) ورکړه

هغه محصل چې د تحصیل دوره د التقوي لوړو زده کړو په موسسه کې بریالي پاي ته رسوي، دتحصیلي رشتې او درجې مطابق هغه ته تحصیلي سند (دیپلوم) او د نومرو ترانسکریپت ورکول کېږي. د لېسانس تحصیلي سند امتیاز دوه زره (۲۰۰۰) افغانۍ ټاکل شوې ده.

## محصلينو ته تخفيف

د التقوي د لوړو زده کړو موسسه د تحصيلي بورسونو ترڅنګ په بېلابېلو برخو کې خپلو محصلينو ته کمښت (تخفيفونه لري)، چې په لاندې توګه ترې يادونه کېږي:

1. هر کال تر لسو تنو (۱۰) د شهيدانو ورثو ته ۱۰۰٪ تخفيف.
2. هر کال معلولينو لپاره ۱۰۰٪ تخفيف.
3. په دواړو پوهنځيو کې انجونو ته ۴۰٪ تخفيف.
4. د سمستر په جريان کې د لومړي درجه محصلينو لپاره ۴۰٪ تخفيف، د دويمي درجه ممتاز محصلينو سره ۳۰٪ تخفيف او د درېيمه درجه ممتازو محصلينو سره ۲۰٪ تخفيف.
5. د هر سمستر په جريان کې د اقتصادي ستونزو لرونکو محصلينو سره د سکالرشيپونو او مالي مرستو د کمېټې له خوا ځانګړي تخفيفونه.

## محصل ته د تدريس ژبه او تګلاره

د التقوي د لوړو زده کړو موسسه کې تدريس د هېواد په رسمي ژبو صورت نيسي او د دې ترڅنګ په انګلېسي ژبه هم صورت نيسي.

| د تدريس روښونه | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سوال ځ جلسې ځواب | فردي تشريحات | ډله ييز بحثونه | انځوريز او غږيز تدريس | کورنۍ دندې | صنفي ازمويني | داخلي ازمويني | سيمينار او ورکشاپ | لنډمهال کورسونه او پروګرامونه | عملي کار |

## د غوره او ممتازو محصلينو هڅونه

التقوي دلوړو زده کړو موسسه تل هڅه کړې، ترڅو دغوره محصلينو هڅونه وکړي، چې په دې لړ کې د ممتازو محصلينو ستاينغونډې، لمسي او غير لسمي ډاليو کار اخلي او د پلان له مخې د هر سمستر په جريان کې د ممتازو محصلينو تشويق له پاره ګټوري برنامې په کار اچوي.

## د محصلینو شکایتونو ته د رسیده ګۍ میکانېزم

د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسې په اداره کې د شکایتونو طرحه کولو پړاونه او د شکایتونو درجولو روشونه د لاندې میکانېزم پر بنسټ په پام کې نیول شوي:

### د شکایتونو د طرح کولو پړاونه

د شاکي او متشاکي عنه لپاره د یو منظم لارښود په توګه د شکایت طرحه کولو په پار لاندې پړاوونه په نظر کې نیول شوي:

1. خبرېدل: د شکایت ثبتولو لپاره د ځانګړي فورمې ترلاسه کول یا د عرض پاڼې وړاندې کول.
2. ارزیابي: د شکایت وړ مواردو په تړاو مهم فکتورونه (عوامل) او د معلوماتو ترلاسه کول او د رسیده ګۍ په تړاو یې یوې نتیجې ته رسیدل؛ یعنې د شکایت اخیستونکي مرجع/ شخص باید دا ډاډ حاصل کړي، چې شکایت په سمه توګه مطرح شوې ده؛ نو شکایت چې د کومې مرجعې پورې تړاو ولري باید د هماغه مرجع سره مطرح شي او څېړنه یې صورت ونیسي. شکایتونه باید په دقیق ډول تر بررسي لاندې ونیول شي، ځکه چې د تحقیقاتو کچه د شکایت د ماهیت سره تړلې ده. په دې اساس باید ټول راټول شوي معلومات په کتبي شکل درج او له ممکنه اثباتیه مدارکو څخه ګټه واخیستل شي. همدارنګه ډاډ حاصلول چې آیا د قانوني لحاظ شکایت د دې وړ دي، چې د شکایتونو رسیده ګۍ کمېټه پرې غور وکړي او د حل په موخه بعدي پړاو ته لاړه شي؛ نو د قانوني والي په صورت کې شکایت په تړاو نظریات او معلومات باید په راپوري بڼه د جلسې لپاره تهیه شي.
3. ځواب وینه: د شکایتونو په تړاو نیول شوي پرېکړې او حل لارې باید پر وخت شاکي او متشاکي عنه ته د خپل ځواب وینې اصل په نظر کې نیولو سره په کتبي توګه د پوره توضیحاتو سره وړاندې کېږي او د نیول شوي اقداماتو دلایل هم پکې روښانه شوي وي.
4. **شکایتونو درجولو روش**
5. هغه روشونه او لارې چارې چې پربنسټ یې شاکي کولای شي خپل شکایت درج کړي:
   د ایمل له لارې: شکایتونو درجولو لپاره د التقوي د لوړو زده کړو موسسې رسمي ایمیل آدرس عبارت دی له:
   complaints_suggestions@altaqwa.edu.af
6. د تیلفوني اړیکو له لارې: د شکایتونو درجولو لپاره د (0093772001996) شمېرې له لارې تاسې خپل شکایتونه د سهار له اتو (۸) بجو څخه تر د ماذیګر څلور (۴) بجو پورې خپل شکایت ثبتولي شئ.
7. شخصي مستقیمه اړیکه: د مستقیم شکایت لپاره شاکي کولای شي د شکایت موارد د شکایتونو ته د رسیده ګۍ مراجعو سره شریک کړي او په رسمي کاري ورځو کې دوي کولای شي د سهار له اتو (۸) بجو څخه تر د ماذیګر څلور (۴) بجو پورې ملاقات ولري.
8. ویبسایټ: د لاسرسي په اساس شاکي کولي شي د خپلې لیوالتیا له مخې خپل شکایت د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسې د رسمي ویبسایټ له لارې شریک کړي.
9. د شکایتونو صندوق: د شکایتونو صندوق په دربیو مختلفو ښکاره او بارزو ساحو کې نصب شوي چې شکایت کوونکي کولای شي د هغې له لارې هم خپل شکایتونه درج کړي. د هرې اونۍ په جریان کې په نوبتي شکل د شکایتونو صندوق د شکایتونو رسیده ګۍ کمېټې له خوا د تحصیلي مؤسسې په سطحه خلاصېږي؛ خو د بېړنیو ناستو او پرېکړو پرته په عادي غونډو کې مطرحه کېږي.

## په پوهنځي کې د محصلینو ونډه

التقوي د لوړو زده کړو موسسه د ټولنې په پرمختګ کې ونډه لري، لکه د اصلاحي علمي او مسلکي سمینارونو ، ورکشاپونو جوړول، څېړنه کول، رسنیو ته په مختلفو سیاسي اقتصادي او ټولنیزو برنامو کې دونډې اخیستلو لپاره د استادانو او محصلینو ورپېژندل؛ نو په همدې منظور په پوهنځي کې د محصلینو ونډه اخیستلو لپاره ځانته ځانګړې میکانیزم هم لري.

## د محصل پر مټ د استادانو ارزيابي

د تضمین کیفیت د اصولو له مخې د هر سمستر په (۱۴) مه اونۍ کې د اړونده مضامینو استاد د یو منظمې پوښتنپاڼې په واسطه د محصل له لارې ارزیابي کیږي او د یادې ارزیابۍ نتیجه جمع کېږي او د سمستر غوره استاد او همدارنګه د هر استاد د نمراتو فیصدي او د استاد په اړه د محصلینو لیکل شوي نظریات او ټول منظم راپورونه په سیستماتیک ډول ورکول کیږي.

## د محصل درجه بندي

د کریډیت سیستم او همدارنګه د درجه بندۍ د نړیوال او پرمختللي سیستم له لارې د هر مضمون د (۰) صفر څخه تر (۱۰۰) نمرو پورې ځانګړې درجات او د هغې اوسط ځای پر ځای کیږي، چې له دې ځایه د سمستر (GPA) او همدارنګه د ټولې تحصیلي دورې (CGPA) محاسبه کیږي چې درجه بندي یې په لاندې ډول کیږي:

| Grade | Marks Range | Grade Point | Grade Description |
|---|---|---|---|
| A+ | 90 – Above | 4.00 | Excellent |
| A | 85 – 89 | 3.7 | Excellent |
| B+ | 80 – 84 | 3.3 | Good |
| B | 75 – 79 | 3.00 | Good |
| C+ | 70 – 74 | 2.7 | Satisfactory |
| C | 65 – 69 | 2.3 | Satisfactory |
| D+ | 60 – 64 | 2.00 | Satisfactory |
| D | 55 – 59 | 1.7 | Marginal |
| F | 55 < Below | 0.00 | Fail |

## د محصلینو صنفي حاضري

التقوي (ERP) سیستم د محصلینو د حاضرۍ منظم او شفاف سیستم لري، چې د دې برخې لپاره هر استاد ته خپل اکاونټ ورکول شوي او استاد کولای شي چې د استادانو لپاره د التقوي د ځانګړي اپلیکیشن په واسطه د محصلینو حاضري په منظم شکل واخلي، چې په دې سره د استادانو د درسي ساعتونو کنترول په ډیرې اسانۍ سره صورت نیسي، او همدارنګه استاد د خپل پلان مطابق د درسي ساعتونو عمده موضوعات سیستم ته رسوي چې دغه موضوعات او اخیستل شوي حاضري محصل په خپل اکاونټ کې هم لیدلای شي.

## محصلینو ته فرصتونه

د نویو پوهنځیو او ماسترۍ پروګرامونو رامنځ ته کول: التقوي د لوړو زده کړو موسسې د بهرني چاپیریالي عواملو د معلومولو په ترڅ کې دا څرګنده شوه ، چې موسسه دافرصت لري ، چې نوي پوهنځي او دماسترۍ برنامي پروګرامونه رامنځته کړي.

دڅېړنو لپاره دعلمي ژورنال رامنځ ته کول: التقوي دلوړو زده کړو موسسه دا فرصت لري، چې د څېړنو لپاره علمي ژورنال رامنځته کړي.

بیزنس انکوبیشن سنټر رامنځ ته کول: التقوي دلوړو زده کړو موسسه دافرصت لري، چې د محصلینو د ظرفیت لوړ ونې لپاره بیزنیس انکوبیشن سنټر رامنځته کړي

د محصلینو لپاره د عملي زده کړو زمینې برابرول: التقوي دلوړو زده کړو موسسه دا فرصت لري، چې د محصلینو لپاره د عملي زده کړو زمینه برابره کړي .

ممتاز محصلینو او استادانو لپاره علمي داخلي او بهرني سفرونه: التقوي دلوړو زده کړو موسسې، د اقتصاد پوهنځي دا فرصت لري ، چې ممتاز محصلینو او استادانو لپاره علمي داخلي او بهرني سفرونه برابر کړي.

## د انټرنشیپ، ستاژ او علمي سیرونو څرنګوالي

همدارنګه باید یادونه وشي چې خوشبختانه التقوي د لوړو زده کړو مؤسسې د مختلفو اقتصاد اړونده اداري واحدونو سره د محصلینو د عملي زده کړو او انټرنشیپ په تړاو تفاهمنامې لاسلیک کړي دي، چې په دې برخه کې د اقتصاد پوهنځي د دواړو څانګو محصلین ورته معرفي کېږي. د مختلفو علمي او اکاډمیکو څېړنو په موخه د علمي سفرونو لړۍ هم پیل شوې ده، چې د استادانو په ګډون ګڼ شمېر محصلین ترې استفاده کولای شي.

## نظم او ډسپلین

د پوهنځي ټول محصلین باید د لاندېنیو ټکو عملي کولو ته ژمن و اوسي:

۱) د اسلام د مقدس دین ټولو اساساتو ته پابندي او درناوي کول.

۲) د هېواد د اساسي قانون او نورو قوانینو رعایتول.

۳) د لوړو زده کړو وزارت ټولو لوایحو، مقرراتو، مصوبو او پرېکړو منل.

۴) د التقوي د لوړو زده کړو موسسې رهبري هیئت، استادانو او ټولو منصوبینو ته احترام کول.

۵) د بیان ازادۍ ټول منل شوي نورمونه په نظر کې نیول.

۶) ټولو محصلینو ته متقابل احترام او خپلو ټولګیوالو سره متقابلې نېکې اړیکې درلودل.

۷) په درسي ټولګیو او د موسسې په داخل کې د نظم او دسپلین اصول رعایتول.

۸) د موسسې د اداري سره په نظافت او پاکۍ کې لازمه همکاري کول.

۹) د هر ډول بشري ضد او تخریبي اعمالو څخه په کلکه ډډه کول.

۱۰) د هر ډول نشه يي توکو د کارولو او راوړلو څخه په کلکه ډډه کول.

۱۱) داسې لباسونه چې د افغاني کلتور سره په مغایرت کې دي نه اغوستل.

۱۲) د موسسې په داخل کې د سینګار توکو نه کارول.

۱۳) په رسمي اوقاتو کې د موسسې په انګړ کې پرته له اړتیا ګرځېدو څخه په کلکه ډډه کول.

۱۴) د موسسې په داخل کې د هر ډول سیاسي او ګوندي فعالیتونو څخه ډډه کول.

۱۵) د هر ډول بې نظمۍ، ګډوډۍ او سخت برخورد څخه د موسسې په داخل کې ځان ساتل.

۱۶) د موسسې د اړوندو وسایلو او لوازمو ساتنه کول.

۱۷) د موسسې په سرسبزۍ او ښېرازۍ کې د اداري سره هراړخیزه مرسته کول.

۱۸) په نظامي دریشۍ او لباس کې موسسې ته نه داخلېدل.

۱۹) موسسې ته د هېڅ ډول وسلې نه راوړل.

۲۰) په ټاکلي وخت فیسونه تصفیه کول.

۲۱) په ټولګي کې موبایل او نور غږیز وسایل بند ساتل.

۲۲) په ټاکلي وخت درس ته حاضرېدل.

۲۳) د تفریح وخت کې د نورو د درسي بهیر مزاحمت نه کول.

۲۴) خپله اړونده موضوع، اړوندو څانګو ته وړاندې کول (سلسله مراتب رعایتول).

## د اقتصاد پوهنځي کمیټې:

د اقتصاد پوهنځي لاندې کمېټې لري، چې هره یوه یې په لنډ ډول معرفي کوو:

**۱. تضمین کیفیت کمېټه:** د تضمین کیفیت کمېټه د پوهنځي په کچه د کیفیت د بهبود، تشویق او ترغیب او هغه ته چټکتیا ورکولو په خاطر رامنځته شوې ده، دغه کمېټه د پوهنځي د اعتبار ورکوونې پروسې، زده کړیزو برنامو او نورو فعالیتونو څخه نظارت کوي، د پوهنځي په سطحه د تضمین کیفیت برنامو له تطبیق څخه تحصیلي نهاد ته معلومات ورکوي، همدارنګه د پوهنځي ریاست ته د تضمین کیفیت د جریان په اړه مشورې ورکوي، په پوهنځي کې د تضمین کیفیت اړونده اسناد او شواهد ټولوي او ساتنه ترې کوي، د تضمین کیفیت مرکزي کمیټې سره د اړیکو تأمین کوي

**۲. تحصیلي نصاب کمېټه:** د تحصیلي نصاب کمېټې د پلان سره سم د پوهنځي کریکولم (تحصلي نصاب) مطالعه کوي او د قوت او کمزورتیا نقاط ئې معلوموي، د کریکولم د نوي والي چارې په مستند ډول ترسره کوي، د کریکولم د نوي والي او پرمختګ په موخه د اهل خبره وو سره غونډې ترسره کوي، د تحصیلي نصاب کمېټه د درسي مضامینو او مفرداتو د تعین او تصدیق په موخه د کار بازار سنجوي، د ټولنې غوښتنې او اړتیاوې معلوموي، د کار بازار، د ټولنې د غوښتنو او اړتیاوو د معلوملو لپاره د پوښتنپاڼو ترتیب، تثبیت، تحلیل او پدې اړه راپور جوړوي، د غنامندۍ په موخه، د پوهنځي موجوده کریکولم د نورو پوهنتونونو او پوهنځیو د کریکولمونو سره مقایسه کوي، د استادانو درسي کتابونه، لکچرنوټونه، سلایډونه او نور درسي مواد د کریکولم له مفرداتو سره مقایسه کوي.

**۳. پلان او پالیسۍ کمېټه:**

د پلان او پالیسۍ کمېټه د پوهنځي په کچه د هر ډول پلانونو او پالیسیو د موجودیت اړتیا سنجوي، د پوهنځي په کچه د ټولو پلانونو، کړنلارو او لازمو حقوقي اسنادو لمړنۍ طرحې او مسودې ترتیبوي، او د پوهنځي علمي شورا ته ئې د تصویب په موخه سپاري، د پوهنځي علمي شورا ته په موجوده پالیسیو او کړنلارو د بیا کتنې وړاندیز کوي، د لوړو زده کړو وزارت د لوایحو او نورو تقنیني اسنادو سره د پوهنځي د کړنلارو، پالیسیو مطابقت څېړي او د تناقص په صورت د ابطال لپاره د مؤسسې علمي شورا ته وړاندیز کوي.

**۴. د علمي څېړنو کمېټه:**

د علمي څېړنو کمېټه له حقوقي، اخلاقي، مسلکي او میتودولوژیکي لحاظه د علمي تحقیقاتو او تحقیقي اثارو او وړاندیزونو مطالعه او بررسي کوي، د تحقیقاتي کارونو د پلان اماده کولو لپاره لازمې مشورې ورکوي، د اړوندو او معتبرو ماخذونو د موندلو په برخه کې استادانو ته لارښوونه او همکاري کوي.

**۵. د نظم او دسپلین کمېټه**

نظم او دسپلین کمېټه د محصلینو شکایاتو ته رسیده ګي کوي، د ستونزې د رامنځته کیدو په صورت کې د اداري مؤیداتو د تطبیق غوښتنه کوي، د تخلف په صورت کې په محصلینو مؤیدات تطبیق کوي.

## علمي پروګرامونه

اقتصاد پوهنځي لاندي دوه پروګرامونه وړاندې کوي:

- ✓ Bachelor of Business Administration (BBA)
- ✓ Bachelor in Finance

د اقتصاد پوهنځي په خپل ترکیب کې د ایجاد له وخته تر ۱۴۰۰ ل کال د فراغت دوه څانګې لري، او همدارنګه د تأسیس له ورځې راپدېخوا په دې هڅه کې دي، چې د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه په رسمي ډول د نورو ډیپارټمنتونو د ایجاد امر ترلاسه او رامنځته يې کړي، خو دا چې په ټول هېواد کې د لوړو زده کړو د تحصیلي نصاب او تحصیلي څانګو د تأسیس په پار د لوړو زده کړو وزارت کار پیل کړي وه او په دې اړه يې یوه سراسري اجماع او سلا مشورې ورکړې دي، چې خوشبختانه او په ټول هېواد کې د اقتصاد پوهنځي د ۱۳۹۹ ل کاله راپدېخوا نوي تحصلي نصاب لري. په هرصورت راځو پورته ذکر شوې موجوده څانګې په لنډه توګه يې معرفي کوو:

### Bachelor of Business Administration (BBA)

### Scheme of Studies

| 1st Semester | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **No** | **Code** | **Subject** | **Pre-requisite** | **Credits** |
| 1 | | Islamic studies | | 1 |
| 2 | | English | | 3 |
| 3 | | Basic Math | | 2 |
| 4 | | Principles of Economics | | 3 |
| 5 | | Principles of Accounting | | 3 |
| 6 | | Introduction to Business | | 3 |
| 7 | | Principles of Management | | 3 |
| | | | **Total** | **18** |

| 2nd Semester | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **No** | **Code** | **Subject** | **Pre-requisite** | **Credits** |
| 1 | | Islamic Study | | 1 |
| 2 | | Micro Economics | Principles of Economics | 3 |
| 3 | | Financial Accounting | Principles of Accounting | 3 |
| 4 | | Principle of Marketing | | 3 |
| 5 | | Business Math | Basic Math | 3 |
| 6 | | Afghan Study | | 2 |
| 7 | | Business English I | English | 3 |
| | | | **Total** | **18** |

| **3RD SEMESTER** | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **No** | **Code** | **Subject** | **Pre-requisite** | **Credits** |
| 1 | | Islamic Study | | 1 |
| 2 | | Macro Economics | Principles of Economics | 3 |
| 3 | | Business English II | Business English I | 3 |
| 4 | | HRM | Principles of Management | 3 |
| 5 | | Computer | | 3 |
| 6 | | Advance Accounting | Financial Accounting | 3 |
| 7 | | Environmental Sciences | | 2 |
| | | **Total** | | **18** |

| **4TH SEMESTER** | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **No** | **Code** | **Subject** | **Pre-requisite** | **Credits** |
| 1 | | Islamic Study | | 1 |
| 2 | | Money and Banking | | 3 |
| 3 | | Business Finance | | 3 |
| 4 | | Cost Accounting | Financial Accounting | 3 |
| 5 | | Marketing Management | Principle of Marketing | 3 |
| 6 | | Business Communication | | 2 |
| 7 | | International Business | Introduction to Business | 3 |
| | | **Total** | | **18** |

| **5TH SEMESTER** | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **No** | **Code** | **Subject** | **Pre-requisite** | **Credits** |
| 1 | | Entrepreneurship | | 3 |
| 2 | | E. Commerce | | 3 |
| 3 | | Financial Management | Business Finance | 3 |
| 4 | | Conflict Management | Principles of Management | 3 |
| 5 | | International Marketing | Principles of Marketing | 3 |
| 6 | | Islamic Study | | 1 |
| 7 | | Statics I | Business Math | 2 |
| | | **Total** | | **18** |

### 6th Semester

| No | Code | Subject | Pre-requisite | Credits |
|---|---|---|---|---|
| 1 | | Project Management | Principles of Management | 3 |
| 2 | | Business Research Methodology | Statistics | 3 |
| 3 | | Small Medium Enterprises | | 3 |
| 4 | | Accounting Information System | Financial Accounting | 3 |
| 5 | | Islamic Finance | Financial Management | 3 |
| 6 | | Islamic Study | | 1 |
| 7 | | Statistics II | Statics I | 2 |
| | | **Total** | | **18** |

### 7th Semester (Management)

| No | Code | Subject | Pre-requisite | Credits |
|---|---|---|---|---|
| 1 | | Organizational Behavior | | 3 |
| 2 | | Strategic Management | Principles of Management | 3 |
| 3 | | Organizational Development | | 3 |
| 4 | | Business Law | | 3 |
| 5 | | Islamic Study | | 1 |
| 6 | | Business Ethics | | 3 |
| 7 | | Psychology | | 2 |
| | | **Total** | | **18** |

### 8th Semester (Management)

| No | Code | Subject | Pre-requisite | Credits |
|---|---|---|---|---|
| 1 | | Consumer Behavior | | 3 |
| 2 | | Leadership | | 3 |
| 3 | | TQM | | 3 |
| 4 | | Research Writing | | 2 |
| 5 | | Islamic Study | | 1 |
| 6 | | Research Thesis | | 6 |
| | | | | |
| | | **Total** | | **18** |

### Summary

| No | Category | Credits | Percentage |
|---|---|---|---|
| 1 | Basic Subjects | 38 | 26.388 |
| 2 | Specialization Subjects | 78 | 54.167 |
| 3 | University Included Subjects | 18 | 12.5 |
| 4 | General Subjects | 4 | 2.778 |
| 5 | Undergraduate Thesis | 6 | 4.167 |
| | **Total Credits** | **144** | **100 %** |

# Bachelor in Finance

## Scheme of Studies

### 1st Semester

| No | Code | Subject | Pre-requisite | Credits |
|---|---|---|---|---|
| 1 | | Islamic studies | | 1 |
| 2 | | English | | 3 |
| 3 | | Basic Math | | 2 |
| 4 | | Principles of Economics | | 3 |
| 5 | | Principles of Accounting | | 3 |
| 6 | | Introduction to Business | | 3 |
| 7 | | Principles of Management | | 3 |
| | | **Total** | | **18** |

### 2nd Semester

| No | Code | Subject | Pre-requisite | Credits |
|---|---|---|---|---|
| 1 | | Islamic Study | | 1 |
| 2 | | Micro Economics | Principles of Economics | 3 |
| 3 | | Financial Accounting | Principles of Accounting | 3 |
| 4 | | Principle of Marketing | | 3 |
| 5 | | Business Math | Basic Math | 3 |
| 6 | | Afghan Study | | 2 |
| 7 | | Business English I | English | 3 |

### 3rd Semester

| No | Code | Subject | Pre-requisite | Credits |
|---|---|---|---|---|
| 1 | | Islamic Study | | 1 |
| 2 | | Macro Economics | Principles of Economics | 3 |
| 3 | | Business English II | Business English I | 3 |
| 4 | | HRM | Principles of Management | 3 |
| 5 | | Computer | | 3 |
| 6 | | Advance Accounting | Financial Accounting | 3 |
| 7 | | Environmental Sciences | | 2 |
| | | **Total** | | **18** |

## 4th Semester

| No | Code | Subject | Pre-requisite | Credits |
|---|---|---|---|---|
| 1 | | Islamic Study | | 1 |
| 2 | | Money and Banking | | 3 |
| 3 | | Business Finance | | 3 |
| 4 | | Cost Accounting | Financial Accounting | 3 |
| 5 | | Marketing Management | Principle of Marketing | 3 |
| 6 | | Business Communication | | 2 |
| 7 | | International Business | Introduction to Business | 3 |
| | | **Total** | | **18** |

## 5th Semester

| No | Code | Subject | Pre-requisite | Credits |
|---|---|---|---|---|
| 1 | | Entrepreneurship | | 3 |
| 2 | | E. Commerce | | 3 |
| 3 | | Financial Management | Business Finance | 3 |
| 4 | | Conflict Management | Principles of Management | 3 |
| 5 | | International Marketing | Principles of Marketing | 3 |
| 6 | | Islamic Study | | 1 |
| 7 | | Statics I | Business Math | 2 |
| | | **Total** | | **18** |

## 6th Semester

| No | Code | Subject | Pre-requisite | Credits |
|---|---|---|---|---|
| 1 | | Project Management | Principles of Management | 3 |
| 2 | | Business Research Methodology | Statistics | 3 |
| 3 | | Small Medium Enterprises | | 3 |
| 4 | | Accounting Information System | Financial Accounting | 3 |
| 5 | | Islamic Finance | Financial Management | 3 |
| 6 | | Islamic Study | | 1 |
| 7 | | Statistics II | Statics I | 2 |
| | | **Total** | | **18** |

| 7TH SEMESTER (FINANCE) | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **No** | **Code** | **Subject** | **Pre-requisite** | **Credits** |
| 1 | | Organizational Behavior | | 3 |
| 2 | | Financial Risk Management | Financial Management | 3 |
| 3 | | Corporate Finance | Financial Management | 3 |
| 4 | | Business Law | | 3 |
| 5 | | Islamic Study | | 1 |
| 6 | | Business Ethics | | 3 |
| 7 | | Psychology | | 2 |
| | | | **Total** | **18** |

| 8TH SEMESTER (FINANCE) | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **No** | **Code** | **Subject** | **Pre-requisite** | **Credits** |
| 1 | | Consumer Behavior | | 3 |
| 2 | | IPM | | 3 |
| 3 | | Auditing | | 3 |
| 4 | | Research Writing | | 2 |
| 5 | | Islamic Study | | 1 |
| 6 | | Research Thesis | | 6 |
| | | | | |
| | | | **Total** | **18** |

| SUMMARY | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **No** | | **Category** | **Credits** | **Percentage** |
| 1 | | Basic Subjects | 38 | 26.388 |
| 2 | | Specialization Subjects | 78 | 54.167 |
| 3 | | University Included Subjects | 18 | 12.5 |
| 4 | | General Subjects | 4 | 2.778 |
| 5 | | Undergraduate Thesis | 6 | 4.167 |
| | | **Total Credits** | **144** | **100 %** |

## علمي محافل (کنفرانسونه، سیمینارونه، ورکشاپونه) لاس ته راوړني

د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسې د اقتصاد پوهنځي د محصلینو د علمي سويې د ارتقاء او علمي منابعو ته د لاسرسي په بنياد محصلينو ته د پام وړ عملي زده کړي مهيا شوي:

1. The Future of Business in the Digital Era
2. Crypto Currency and Its Future Predictions
3. UNV Workshop on Volunteerism (UNDP Office in Afghanistan)
4. Awareness Seminar on SDGs
5. The Economic Impact of Green Technology
6. Marketing Strategies in Dynamic Markets
7. Role of Central Bank in the Economic Development of a Country
8. The Role of Peace and Justice from Islamic
9. Career Development
10. SPSS Workshop


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788




## د اقتصاد پوهنځي اسانتیاوي (منابع او امکانات)


د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسې د اقتصاد پوهنځي د محصلینو د علمي سویې د ارتقاء او علمي منابعو ته د لاس رسۍ په موخه لاندې اسانتیاوې شتون لري:

- کتابتون

د التقوي دلوړو زده کړو موسسي کتابتون په (۱۳۹۰)کال کې یې بنسټ یښودل شوي دي چې دغه کتابتون په( ۲۵۰۰۰) زره امریکایي ډالرو رغیدلي دي، چې ۵۵۰۰ کتابونه مجلې ورځپاڼي چاپي آثار انځورنه او داسي نور مواد پکې شتون لري. په دغو کتابونو کې د اقتصاد پوهنځي اړونده کتابونه په کافي اندازه شتون لري، چې یاد کتابونه ټول په ډیټابیس کې انټري شوي او په خپلو الماریو کې ځاي پرځاي شوي دي. د مطالعې لپاره یو مهم مرکز دي، چې د وګړو د مسلکې روزنې له لارې د ټولنیزې ارامۍ د ژوند په هر ډګر یې مثبته اغیزه کړې ده. د دې سره په سنګ کې بریښنایي کتابتون هم شتون لري، چې په یاد بریښنایي کتابتون کې له مونږ سره تر(۱۲۰۰۰۰) پوري بریښنایي کتابونه شتون لري. او همدارنګه د ښځینه محصلینو لپاره جلا بریښنایي کتابتون موجود دي، چې په یاد کتابتون کې بریښنایي کتابونه او د بریښنایي کتابتونونو ادرسونه موجود دي، د کتابتون په داخل کې د نارینه او ښځینه محصلینو لپاره ډله ایېزي بحث خوني موجودې دي. محصلین او مطالعه کوونکې په ارامه زړه مطالعه کولي شي.

کتابتونونو ادرسونه موجود دي، د کتابتون په داخل کې د نارینه او ښځینه محصلینو لپاره ډله ایېزي بحث خوني موجودې دي. محصلین او مطالعه کوونکې په ارامه زړه مطالعه کولي شي.








a Promising

- روغتيايي اسانتياوې

التقوي د لوړو زده کړو موسسه د اړتيا وړ روغتيايي کلينک لري، چې په بېړنيو حالاتو کې د اقتصاد پوهنځي محصلانو لپاره لومړنۍ روغتيايي اسانتياوې لري، چې د پښتو پرمهال محصلانو سره اړينې روغتيايي مرستې کوي او په هر پوهنځي کې د طبي لومړنيو مرستو کېټونه هم شتون لري؛ خو د سختو ناروغانو لپاره له څو روغتونونو سره هوکړه ليکونه لري.





- مناسب چاپېریال

التقوي دلوړو زده کړو مؤسسه د زده کړو لپاره د یو مناسب تحصیلي چاپیریال درلودونکي دي، لکه شنه سیمه، مسجد، پارکېنګ او د ازموینو اخیستلو لپاره مناسب چاپیریال، چې د اقتصاد پوهنځي اړونده محصلین ترې ګټه اخلي




AT IHE OFFERS
• L.L.B
• B B A
• B SC.ECO




د اقتصاد پوهنځي درسي خونې (1)

## د اقتصاد پوهنځي درسي خونې (3)





- ترانسپورت

پوهنتون د ښځینه محصلینو او همدارنګه د خپلو اداري پروګرامونو لپاره د ترانسپورت برخه لري، چې د اقتصاد پوهنځي محصلین او استادان ترې ګټه اخلي.




- د غونډو تالار

التقوي د لوړو زده کړو مؤسسې د غونډه تالار، چې په ټولو لازمو وسایلو سمبال دي، د اقتصاد پوهنځي ترې، په غونډو، سیمینارونو او ورکشاپونو په برخه کې کار اخلي.






- آسانتیاوې

التقوي د لوړو زده کړو مؤسسه، محصلینو لپاره یو شمېر اسانتیاوې لري، چې د اقتصاد پوهنځي استادان، محصلین او کار کوونکي هم ترې ګټه اخلي، چې یوازې د نومونو په ذکر کولو سره یې، په لاندې ډول ذکر کوو:

- پر LCD سنبال درسي خونې.
- مسجد
- عاجله خونه
- د یتیمو او بې وزله محصلینو لپاره ځانګړي تخفیف او وړیا سکالرشیپونه
- وړیا Wi-Fi لرونکي انټرنټ.
- کانټین








التقوا کانتین او فاسټ فوډز
TCFF
التقوا کانتین او فاسټ فوډز
Al-Taqwa Canteen & Fast Foods
التقوا قرطاسیه او فوتوکاپي
Al-Taqwa Stationary & Photocopy
Mob: 0788 48 19 14


التقوا کانتین او فاست فوډز
التقوا کانتین او فاست فوډز
Al-Taqwa Canteen & Fast Foods
TCFF
التقوا قرطاسیه او فوټوکاپي
Al-Taqwa Stationary & Photocopy
Mob: 0788 48 19 14


Windows
POWER POINT
MS Access
Corel Draw
Networking
HTML
Internet
IT Concept
Corel Draw
After Effect

## پالیسی او طرزالعملونه

دا چې د التقوي د لوړو زده کړو موسسې سیستم، ټولې اساسي او حساسي برخي باید یو طرز العمل او پالیسي په اساس مخته لاړي شي، نو التقوي د یادو برخو لپاره د پالیسیو یوه منظمه برخه لري، چي ټولې علمي، تدریسي او اداري برخې په عمومي توګه کنترولیږي، چې دغه ټولې پالیسانې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې هم د تطبیق وړ دي، مونږ د دغو پالیسو نوملړ په لاندې ډول ذکر کوو:

۱. اخلاقي پالیسي
۲. نظم دسپلین او شکایتونو ته د رسېدنې پالېسی
۳. د اکاډمیکې ازادی پالیسي
۴. د انصاف او عدالت پالیسي
۵. د محصلینو عملي او ساحوي کارونو پالیسي
۶. د محصلینو د نارضایتی رفع پالیسي
۷. د محصلینو د جذب پالیسي
۹. فیسونو د تخفیف طرزالعمل
۱۰. د ازموینو طرزالعمل
۱۱. د مونوګراف لیکلو اړونده چارو د تنظیم کړنلاره

## لاسته راوړنې

د التقوي د لوړو زده کړو مؤسسې د اقتصاد پوهنځي د برحاله او فارغو محصلینو په برخه کې ګڼې لاسته راوړنې لري چې په مختصره توګه یې په لاندې کرښو کې بیانوو.

د لومړي د برحاله محصلینو په برخه ې لاستنه راوړنې

۱). د اقتصاد پوهنځي د برحاله محصلینو لپاره ګڼې لاسته راوړنې لري د مثال په توګه د محصلینو د علمي او عملي زده کړو په پار له ګڼو ادارو سره د مؤسسې په همکاري تفاهمنامې شوي چې پرمټ یې محصلینو په اوړنده ادارو کې خپل علمي او کاري ظرفیت لوړوي د مثلاً

تړونونه باید ذکر شي.

۲). په همدې ډول د پوهنځي په سطحه د محصلینو د عملي زده کړو په پار کمپیوټر لیب لرو چې عملاً برحال محصلین روزي او کارې ظرفیت یې لوړوي.

۳). د برحاله محصلینو لپاره د اقتصاد پوهنځي په خپلو دواړو ځانګو کې ګڼې عملي برنامې لري چې عملاً محصل په کې برخه اخلي.

۴). همدارنګه د اقتصاد پوهنځي د برحاله محصلینو لپاره علمي سفرونه لري چې لویه لاسته راوړنه ګڼل کېږي.

دویم د فارغو محصلینو په برخه کې لاسته راوړنې:

۱). الحمدالله د اقتصاد پوهنځي د فارغو محصلینو یوه غوښنه برخه چې په سلو کې ۷۲ فیصده کېږي عملاً په مختلفو ادارو کې په کارو بوخته ده چې په ټول هېواد کې د کارې فرصتونو په محدوده کې د فصدی په لحاظ دا لوړه فیصدې ده.

۲). د فارغو محصلینو له جملې یوتعداد یې اوس د استاذۍ په مقدسه دنده بوخت دي چې عملاً ځینې یې د التقوي پوهنتون د اقتصاد پوهنځي په اړونده څانګو کې د استاذۍ پاکه وظیفه ترسره کوي.

۳). الحمدالله اوس مهال په یو زیات شمېر کې د اقتصاد پوهنځي د اړونده څانګو فارغ محصلین په ملي او نړیوالو پوهنتونو کې د ماسترۍ په زده کړه بوښت دي، لویه لاسته راوړنه ګڼل کېږي.

۴). د یادونې وړده چې د اقتصاد پوهنځي د پوهنتون په کچه د کارمندنې مرکز لري چې فارغو محصلینو سره د دندې په پیدا کېدو کې لازمه همکاري کوي او سالمې مشورې ورکوي.

۵). الحمدالله د اقتصاد پوهنځي ډېرې فارغ محصلین عملاً په مختلفو پوهنتونونو کې د ماسترۍ په زده کړه بوخت دي چې د لویه لاسته راوړنه ګڼل کېږي.

۶). د یادونې وړ ده چې د اقتصاد پوهنځي د خپلو برحاله او فارغو محصلینو ترڅنګ د ملت د بچیانو د ښې روزنې په پار په شرایطو برابرو محصلینو لپاره د نړیوالو مهمو پوهنتونو سره هوکړه لیکونه لري چې ښه مثال یې د هندوستان هېواد د لفلي (Lovely) پوهنتون سره د التقوا پوهنتون تړون دې.



# Contact Us

:0777323368-0783287788
: info@altaqwa.edu.af
: www.altaqwa.edu.af
: Altaqwa Institute of Higher Education
:Al-Taqwa Institute of Higher Education

پته: عربانو ګولايي، دويمه ناحيه، د لغمان هډې عمومي سړک، جلال اباد ښار